Institut des Bundes
für Qualitätssicherung im
österreichischen Schulwesen

iqs.gv.at



# MIKA-D

## د لیاقت د تحلیل لپاره اندازه کېدونکي وسایل – جرمني

## د والدینو او قانوني سرپرستانو لپاره معلومات

**MIKA-D**

پښتو
(Paschtu)

**د چاپ حقوق**

IQS – Institut des Bundes für Qualitätssicherung im österreichischen Schulwesen
(د اتریش د ښوونځیو په سیستم کې د کیفیت تضمین فدرالي انستیتیوت)
Alpenstraße 121, 5020 Salzburg

د عکس اعتبار:
stock.adobe.com: Seventyfour (Cover, S. 5/6), Monkey Business (S. 3), Rido (S. 7)

Salzburg, 2022

**ستاسې ماشوم باید د MIKA-D په ازموینه کې برخه واخلي او آیا غواړۍ چې وپوهېږۍ چې دا څه شی دی؟ د معلوماتو په دې صفحه کې به تاسې د MIKA-D، د جرمني ژبې ټولګیو او جرمني ژبې د کورسونو  په اړه ټول مهم معلومات ومومۍ.**

## MIKA-D څه شی دی؟

د MIKA-D معنا د لیاقت د تحلیل لپاره اندازه کېدونکي وسایل ده – جرمني. د MIKA-D په مرسته ښوونکي معلوموي چې ستاسې ماشوم په جرمني ژبه څومره پوهېږي او آیا هغوی کولی شي په جرمني ژبه درسونه ولولي او که نه. د ابتدايي کچې لپاره یوه نسخه شتون لري ("MIKA-D ابتدايي کچه") او همداسې د ثانوي کچې لپاره هم یوه نسخه ("MIKA-D ثانوي کچه") شتون لري.
له MIKA-D سره، په خبرو اترو کې د ژبې د مختلفو ساحو په اړه پوښتل کېږي، د بیلګې په توګه د لغتونو او د ژبې د درک په اړه (نور په 5 پاڼه کې)

دا ازموینه **30 دقیقې** وخت نیسي.
د مثال په ډول د ښوونځي د دندې په څېر MIKA-D یوه ازموینه نده. زده کوونکو ته پکې نمرې نه ورکول کېږي.

## ولې باید زما ماشوم په دې ازموینه کې برخه واخلي؟

د MIKA-D پایلو په بنسټ پرېکړه کېږي چې ستاسې ماشوم د جرمني ژبې څه ډول مرسته ترلاسه کوي (په اړه يې نور معلومات په 2–3 صفحو کې کتلی شئ). ستاسې ماشوم به د جرمني ژبې د زده کړې، د جرمني ژبې د زده کړې کورس یا یو باقاعده ټولګي ته واستول شي. په هر سمستر کې MIKA-D ارزوي چې آیا ستاسې ماشوم بیا هم د جرمني ژبې د زده کړې کورس ته اړتیا لري او که نه (په اړه يې نور په 4 صفحه کې کتلی شئ.

## په MIKA-D کې درې ډوله مختلفې پایلې شتون لري:

### 1. د جرمني ژبې د زده کړې ټولګی

ستاسې ماشوم د جرمني ژبې په ځانګړې ټولګي کې داخلیږي او فوق العاده زده کوونکی **(فوق العاده وضعیت درلودونکی)** بلل کیږي. په ابتدايي کچه کې، ستاسو ماشوم به د آلماني ژبې په ځانګړي ټولګي کې په اونۍ کې 15 ساعته د آلماني ژبې زده کړه کوي، ترڅو په عادي ټولګي کې په درسونو ښه پوه شي. په ثانوي کچه کې دا په اونۍ کې 20 ساعته وي

په پاتې ساعتونو کې په باقاعده ټولګیو کې ګډون کوي، د مثال په ډول، تمرین او ورزش یا د ټولګیو سفرونه. هرښوونځی دا چاره په مختلف ډول پرمخ بیايي.

### 2. د آلمانی ژبې ځانګړي کورس سره با قاعده ټولګی

له دې پایلې سره ستاسې ماشوم به د جرمني ژبې د زده کړې کورس د لږ تر لږه یو سمستر لپاره په اونۍ کې 6 ساعته تعقیب کړي. دا په ابتدايي او ثانوي کچه کې یو شان دی. ستاسې ماشوم به په پاتې ساعتونو کې په باقاعده ټولګیو کې برخه اخلي. د MIKA-D له دې پایلې سره هم ستاسې ماشوم په **"فوق العاده وضعیت"** کې بلل کیږي.

**"فوق العاده وضعیت"**

که چېرې ستاسې ماشوم د جرمني ژبې د زده کړې په ټولګي یا د جرمني ژبې د زده کړې په کورس کې داخلیږي، نو په دې صورت کې "فوق العاده وضعیت" ترلاسه کوي. ستاسې ماشوم کولی چې دلته په بشپړه توګه د جرمني ژبې په زده کړه باندې تمرکز وکړي.

"فوق العاده وضعیت" تر 2 کالو (4 سمسترونو) پورې د اعتبار وړ دی. نو له همدې امله ستاسې ماشوم له 2 کلونو څخه د ډېر وخت لپاره د جرمني ژبې د زده کړې په ټولګي یا د جرمني ژبې د زده کړې په کورس کې نه پاتې کیږي. له هغې څخه وروسته پرته له دې چې ستاسې د ماشوم د MIKA-D پایله په پام کې ونیول شي، په اتومات ډول "مناسبت وضعیت" ترلاسه کوي.

**"عادي وضعیت"**

تاسې په هغه وخت کې "عادي وضعیت" ترلاسه کوئ، کله چې

- که چېرې د MIKA-D پایله "کافي وي یا
- که چېرې ستاسې ماشوم د جرمني ژبې د زده کړې په ټولګي یا د جرمني ژبې د زده کړې په کورس کې په مجموعي ډول 2 کلونه زده کړه کړې وي.

### 3. باقاعده ټولګی

که چېرې ستاسې ماشوم کولی چې په جرمني ژبه درسونه تعقیب کړي، هغه د باقاعده زده کوونکي په توګه **(باقاعده وضعیت)** باقاعده ټولګیو ته داخلیږي.

اړینه نه دې چې ددې کار لپاره دې ستاسې ماشوم په بشپړه توګه په جرمني ژبې خبرې وکولی شي. حتی د "مناسب وضعیت" په درلودل سره هم ستاسې ماشوم کولی شي چې د جرمني ژبې په زده کړه کې مرسته ترلاسه کړي.

**که چېرې غواړۍ چې د جرمني ژبې په زده کړې کې د مرستې په اړه په لا ډېر څه پوه شئ، غوره لار يې داده چې د خپل ښوونځۍ له اداري څخه پوښتنه وکړئ!**



## د ارزونې لپاره کله له MIKA-D څخه ګټه اخیستل کېږي؟

ښوونکي له MIKA-D څخه په لاندې وختونو کې د ارزونې لپاره ګټه اخلي:

1. په ښوونځي کې د داخلېدو پرمهال*
2. یا په سمستر کې یو ځل که چېرې ستاسې ماشوم لا له مخکې د جرمني ژبې د زده کړې په ټولګي یا د جرمني ژبې د زده کړې په کورس کې وي. دا په دې معنا ده چې دا به تل ارزول کېږي چې ستاسې ماشوم د جرمني ژبې د زده کړې کورس ته اړتیا لري او که نه
3. یا که چېرې تاسې په نږدې وختونو کې اتریش ته راغلي یاست، ستاسې ماشوم اوس د جرمني ژبه زده کوي او د اتریش له ښوونځي سره اشنا ندی.

***د ښوونځي د نوم لیکونکو لپاره معلومات**

کله چې ستاسو ماشوم شاوخوا 6 کلن شي، خپل ماشوم د نوم لیکنې لپاره نوي ښوونځي ته یوسئ. دلته، ځېنې خبرې اترې ترسره کېږي ترڅو معلوم شي چې آیا ستاسو ماشوم ښوونځي ته چمتو دی. د ښوونځي مدیریت بیا پریکړه کوي چې آیا MIKA-D باید د ستاسو ماشوم لپاره هم ترسره شي. که داسې وي، نو د دې لپاره به بله لېدنه وټاکل شي.



## په MIKA-D کې څه شی ارزول کېږي؟

د MIKA-D په ابتدايي درجه کې بېلابېلې برخې ازمول شوي دي:

- **د لغاتونو برخه:** ستاسې ماشوم ته يو لوی انځور ښودل کېږي. ستاسې ماشوم بايد ووايي چې په انځور کې څه شی وينې.
- **پوښتنو ته د ځواب ويلو برخه:** ستاسې ماشوم بايد د دې انځور په اړه چې دلته راوړل شوی دی، پوښتنو ته ځواب ووايي.
- **د انځورونو د کيسې بيانولو برخه:** ستاسې ماشوم ته ځينې انځوريزې کيسې ښودل کېږي چې هر يو يې د دريو انځورونو درلودونکې وي. ستاسې ماشوم بايد نومورې کيسه ووايي.
- **په جملو د پوهېدلو برخه:** ستاسې ماشوم ته يو جمله ويل کېږي. هغه بايد له څلورو انځورونو څخه هغه انځور غوره کړي چې له نومورې جملې سره مناسب وي.

د MIKA-D په ثانوي کچه کې، بله ساحه شتون لري:

- **تش ځايونه ډک کړئ:** ستاسو ماشوم بايد د متن په دوو برخو کې تشې ډکې کړي چېرې چې ځينې کلمې ورکې وي.



## آیا زما ماشوم باید د MIKA-D لپاره درس ووایي؟

ستاسې ماشوم باید په مستقیم ډول د MIKA-D لپاره درس ونه وایي. غوره ده چې ستاسې ماشوم په عمومي ډول د جرمني ژبې تمرین وکړي. د مثال په ډول:

1. له هغو خلکو سره خبرې وکړي چې جرمني یې مورنۍ ژبه وي.
2. کتابونه ولولئ. خپل ماشوم وهڅوئ چې په الماني ژبه کتابونه ولولي. که تاسو وغواړئ، تاسو کولی شئ خپل ماشوم ته یې ولولئ یا یې یوځای ولولئ (په ځانګړي توګه په ابتدايي کچه کې). له ماشوم څخه پوښتنې وکړئ او د هغه څه په اړه خبرې وکړئ چې په کتاب کې پېښ شوي وي. همدارنګه داسې کتابونه هم شتون لري چې په جرمني ژبه لیکل شوي او نورو ژبو ته ژباړل شوي دي. که چېرې تاسې په خپله په ښه ډول په جرمني ژبه خبرې نشئ کولی، نو په خپله مورنۍ ژبه خپل ماشوم ته لوست وکړئ. دا چاره د نورو ژبو په زده کړه کې مرستته کوي.
3. له وړاندیزونو څخه ګټه واخلي، د مثال په ډول په کتابخانو کې د لوست ورځې (همدارنګه په آنلاین بڼه). د خپل اوسېدو په ځای کې د کتابخانو په ویب پاڼو کې یې په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.
4. په جرمني ژبه غړېزو کتابونو ته غوږ ونیسي.
5. له رسنیزو توکو څخه په جرمني ژبه ګټه واخلي (لکه تلویزیون، فلمونه، سریالونه، ویډیویي لوبې).
6. له اجتماعي رسنیو څخه په جرمني ژبه ګټه واخلی (لکه پوډکیسټونه، یوټیوب، اجتماعي شبکې، بلاګونه).



**د MIKA-D په اړه نور معلومات:**

https://www.bmbwf.gv.at/Themen/schule/schulpraxis/ba/sprabi/mika_d.html

**د جرمني ژبې د زده کړې د ټولګیو او د جرمني ژبې د زده کړې د کورس په اړه نور معلومات:**

https://www.bmbwf.gv.at/Themen/schule/schulpraxis/ba/sprabi/dfk.html

**که چېرې تاسې کومه پوښتنه لرئ، نو د مهربانۍ له مخې مونږ ته په**
**+43 662 620088-3600 شمېره زنګ ووهئ یا**
**MIKA@iqs.gv.at ته یو بریښنالیک واستوئ.**